مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني
۲۰۱۹/۰۲/۱۳

# د لېوه احسان

يو لېوه د غره لمن کي وږی تږی
له سترتيا يي خوږېدی په نس کي سږی
څو شپي ورځي وو په غره کي ګرځېدلی
وږي نس ته يي لا ښکار نه وو ميندلی
ګرځېدلی وو پر ونو او پر ژر ګو
سپينه ورځ يي توره شپه ليده په سترګو
يوه سوی وه راوتلي له خپل غاره
برابره يي قسمت کړه پر ده لاره
په يوه حمله يي پورته کړه له مځکي
په غاښونو يي ورمات کړله هډوکي
يو هډوکی يي د پښي وو که د ملا وو
رسېدلی د لېوه په ځان بلاوو
دا هډوکی د لېوه ستوني کي بند سو
پوري زهر د خپل ښکار د غوښو خوند سو
نه تر ستوني يي سو کښته تېرولالی
نه په زرو يي سو د باندي را ايستلای
لېوه جوړي په ځنګله کي کړي رمباړي
مرګ له خدايه په زاريو ځانته غواړي
کښته پورته يي ځغستله لاندي باندي
خوله يي خلاصه دواړي سترګي يي ژړاندي

چي پر ستوني به يي زور وکړ يو نوکی
ښخېدی به يي په غوښو کي هډوکی
له ناکامه د قسمت په انتظار سو
وازه خوله د مرګ راتللو ته تيار سو
له رمباړو له زګېروي څخه سو ستړی
يوه سيوري ته دمه سو لکه مړی
له هوا يوه کومول کښته کتله
د رنځور لېوه ژړا يي اورېدله
کښته راغی ورته کښېنستی پر مځکه
ويل راسه پر لېوه پوښتنه وکه
ورو په ورو د لېوه خواته ور نيژدي سو
ور شريک يي په زګېروي په انديښني سو
په زګېروي لېوه وررغ کړله چي وروره
سوځوي مي د خپل ستوني درد بی اوره
که دي دا هډوکی وکيښ زما له ستوني
انعامونه درکومه په سل ګوني


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

نه يوازي به دي دا احسان منمه
نعمتونه انعامونه درکومه
کومول زړه نا زړه سو تېر له سر او تنه
د لېوه ستوني ته سر يې کړ دننه
د عذاب علت يې کش کړ په مشوکي
د لېوه ستونی فارغ سو له هډوکي

د ده سترګي سولي خلاصي ژوند يې سم سو
کومول هم د څه انعام لپاره تم سو
ويل خلاص مي کړې له غمه انعام څه دی
پر خپل قول درېدل خوی د مېړه دی
د لېوه سترګي سوې سرې په غړومبېدو سو
لا کومول ته په غوسه په خروښېدو سو
ويل پوه لا د ژوندون په قانون نه يې
ته کم عقل ته کومول ځومره ساده يې
ته احمق يې خو له بخته ګړندی يې
چي لا ګرځې پر دنيا باندي ژوندی يې
زما له ستوني سلامت سر دي ايستلی
دا احسان دي لا پر ځان نه دی منلی
ستا پستو غوښو ته اوس مي هم زړه کيږي
بختور يې چي مي ستونی لا خوږيږي
ايله عقل د کومول ورغی سرته
غوږ يې ونيوی منطق د زورور ته
د نېکی او د احسان خبري ښې دي
پر غوږونو ښې لګيږي او خوږې دي
خو هر غوږ نه وي لايق د دې خبرو
احسان نه مني قانون د زوررو
د احتياج په ورځ د هر سړي غلام وي
له احتياجه چي سي خلاص بادار د قام وي.

د ۲۰۱۹ کال د فبروري لسمه ويرجينيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ